مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۰/۰۷/۰۷

# پوښتنې

## (۲)

**کابل د چا په یاد دی؟**

په «پل باغ عمومي» کې پاس د ستنې پر سر

کابل راډیو به چې ځپه، ځپه شپېلی وهله.

سهار به مخ ته د «پښتون کافي» په غوړو کې نازکې پراټې ایشېدې

په بیټلي پتلون کې ځواني نجونې

د پوهنتون ملي بسونو ته ولاړې په خندا کړېدې

**کابل د چا په یاد دی؟**

د «لتا» غږ سره، که اوس یې واورئ

د کومې پټې مینې یاد مو سیزي؟

احمدظاهر سره تر اوسه ژاړئ؟

راځئ، ریښتیا ووایئ:

په منډیي کې تر ښنګرو ختې ښکلې نه وې؟

مازیګري مو مَشک پر شا سقاو کوڅه کې یاد دی؟

سهار، سهار مو نانوایي سره څنبلې د تودې ډوډی ځانګړي عطر؟

او پرې شینډلي سیاه دانه و خشخاش مو هېر دي که یاد؟

لیسی نه پت «بهارستان» یا هم «آریوب» ته تللئ؟

«شعلی»، «امر، اکبر او انتوني» مو چېرته لیدل؟

په فروشګاه کې مو غر، غر د شیریخي ببلر په یاد دی که نه؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

کوم مازیګر مو د کابل ننداريِ خوا ته له «هغې» سره وعده کړې وه؟

کابل د چا په یاد دی؟

د ترافیکو هوايي غرفي د چا یادي دي؟

د حبیبيې لیسې ځوانان به د رابیا بلخي لیسې ته څه په بېړه ورتلل

چا به د خولې په لاړو واړول ویښتان او بل به وموښل بوټان په پایڅو

بختور هغه و، چې پلار نه یې «همبر» بایسکل په سوال غوښتی و.

چا د «خیابان» پر خیاطانو دي ګنډلي لوی اختر ته جامې؟

د صدفي تنیو لنډ کمیس

او لوی، لوی یخنونه

بخیه داري لويې، لويې پایڅې

په لیلامیو کې کاوباې پتلون او شین یخن قاق

د مرکزي روغتون ترڅنګ د نوي ښار تمځای

او زرنګار سره د ځوانو سیاستوالو چیغې

د «کاه فروشي» د کوڅې شا ته

د میوند تر څلورلارې هاخوا

باباې ولي هوټل ترڅنګه هغه زوړ د چاینکي دوکان کې

چا اورېدلي د «سایګل» سندرې؟

چې په زیمنس تیبري کارډ کې به ورو، ورو غږېدې.

او هغه ورځ مو هم په یاد ده، چې په پلې لار کې

پر درې پښو ولاړې مخامخ کمرې ته مو وې ردې سترګې

لاس په نامه ایښی، ترلې مو وې ټولې تنې

په ژوندانه کې د لومړي فوري تصویر لپاره.

کابل د چا په یاد دی؟

له ګاونډې سره لومړی مینه مو زړه کې ګرځي؟

په کتابچه کې مو پُستکارت لیږلی؟

یا یوه وچه د ګل پاڼه، یا بڼکه د تاووس، او یا په زړه کې غشی؟

کابل د چا په یاد دی؟

هرځای چې یاست،

هرڅوک چې یاست،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

**په هغو ورځو، هغو شپو پسې خپه یاست که نه؟**

**خپلو یادونو ته مو ژاړئ او که زړه کې مو خښ کړي دي ټول؟**

**د دومره لویې هدیرې لپاره زړونو کې بیدیاوې لرئ؟**

**کابل به چېرته خښ کړئ؟**

**کابل مو یاد دی که هېر؟**

۱۶ سرطان ۱۳۹۹



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ